# آیا ستاسې ماشوم د سرب ټیسټ ته اړتیا لري؟

## آیا ستاسې ماشوم...

| | هو | نه |
|---|---|---|
| په داسې کور کې اوسيږي يا په منظم ډول ورته تګ راتګ کوي چې د 1978 کال څخه مخکې جوړ شوی، په ځانګړي توګه که پدې وروستيو کې ترميم شوی وي؟ | | |
| آیا داسې ورور یا خور یا ملګری لري چې په وینه کې یې د سرب کچه لوړه وي؟ | | |
| والدين يا پاملرنه کونکی لري څوک چې د سرب سره کار کوي، لکه په دنده کې يا شغل يې وي؟ | | |
| د امریکا متحده ایالاتو څخه دباندې د کوم هیواد څخه راغلی؟ | | |
| دوديزې درملنې يا سينګار توکي کاروي، لکه ګريټا، ازارکون، يا سرمه؟ | | |
| Apple Health/Medicaid لري؟ | | |

که تاسې دې پوښتنو څخه کومې یوې ته د **هو** ځواب ووایی یا تاسې فکر کوئ چې ستاسې ماشوم د سرب سره کومه اړیکه درلودلې، **ستاسې ماشوم اړ دی د وینې د سرب ټیسټ وکړي.**

لاندې کارت ځيرې کړئ او ستاسې د ماشوم بلې ليدنې پرمهال يې د خپل ماشوم ډاکټر ته ورکړئ. که ستاسې ماشوم د Apple Health بیمه لري، نو د هغوی د وړیا ټیسټ کولو څخه ګټه پورته کړئ، حتی که تاسې نورو پوښتنو ته د **نه** ځواب هم ورکړی وي.

## My child needs a blood lead test.

Provider: A lead risk factor questionnaire identified this child as having one or more risk factors for lead exposure.

Federal law mandates that all children enrolled in Medicaid are required to get blood lead tests at ages 12 and 24 months.

For more information, **visit doh.wa.gov/lead**.

## په ماشومانو کې څه شی د سرب د مسمومیت لامل کیږي؟

ترټولو عام لارې چې ستاسې ماشوم پکې په سربو اخته کیدی شي هغه په زړو کورونو کې رنګ دی. رنګ خورا خطرناک کیدی شي کله چې پاترې وکړېږي یا دوړه او خاوره وګرځي. د سرب دوړه د تنفس له لارې یا د خولې له لارې ماشومانو ته تیریدی شي. د ماشومانو لاسونو او نانځکو څخه تل دوړې ومینځئ.

## د کور شاوخوا او دننه شیان چې شاید سرب ولري:

د زوړ رنګ پاترې او دوړه

په لاس جوړ د کلالی لوخي

خاوره او ککړتیا

وارد شوي مسالې

نانځکې او ګاڼې

اوبه

## ستاسې ماشوم ولې باید د سرب لپاره ټیسټ شي؟

که سرب ستاسې ماشوم ته تیر شي، دا د مغز او د پوښتورګو د تخریب لامل کیدی شي، همدارنګه د هغوی لپاره زده کړه، توجه کول، او په سم ډول چلند کول ستونزمن کوي. حتی د سرب کوچنی مقدار کولی شي ستاسې ماشوم ته زیان ورسوي، نو مهمه ده چې پوهه شئ آیا ستاسې ماشوم باید ټیسټ شي.

## د سرب د مسمومیت علایم څه دي؟

ډیری ماشومان چې د سرب مسمومیت لري نروغ نه ښکاري یا د ناروغ په څیر عمل نه کوي. د وینې ټیسټ یواځینۍ لاره ده چې تاسې ته وایی آیا ستاسې ماشوم د سرب سره مخ شوی که نه.

## که ستاسې ماشوم د سرب مسمومیت ولري څه پیښیږي؟

د روغتیا څانګه یا ستاسې د سیمې ځایی روغتیایی نهادونه کولی شي تاسې سره د سرب سرچینې موندلو او ورڅخه خلاصیدو کې مرسته وکړي. ستاسې کورنۍ همدارنګه ستاسې د ماشوم روغتیا ملاتړ کولو لپاره سرچینو، لکه د تغذیه خدمتونو سره وصل کیدی شي.

## د ماشومتوب د سرب مسمومیت مخنیوي پروګرام

د سرب په اړه نورو معلوماتو لپاره او ستاسې ګاونډ کې سرب د خطر کتلو لپاره، **doh.wa.gov/lead** ته ورشئ یا 1-800-909-9898 ته تلیفون وکړئ.

Washington State Department of Health

**DOH 334-141  December 2022 Pashto**

په بل فارمټ کې د دغه سند د غوښتلو لپاره 1-800-525-0127 شمېرې ته زنګ ووهئ. د کڼو او هغو پېرېدونکو لپاره چې په اورېدو کې ستونزه لري، مهرباني وکړئ 711 (Washington Relay) سره اړیکه کې شی یا دلته برېښنالیک ولېږئ civil.rights@doh.wa.gov.